## د ټولټاکنو د لنډ مهالو کارکوونکو کړنلاره

دغه کړنلاره د افغانستان د ټولټاکنو د قانون د اتمه او ۵۶مه ماده کي د ورکړل شويو واکونو له په پام کي نيولوسره دانتخاباتو د خپلواک کميسيون له خوا د ټاکنو د موقتو کارکوونکو داستخدامولو د شرايطو د ټاکلو په مقصد تصويب شوی ده

### د تطبق ساحه

**لومړی ماده:**

دغه کړنلاره د لنډمهالو کارکوونکو په استخدام پوري اړوندي چاري په لاندينيو ټاکنو کي تنظيموي

1. د جمهوري رياست ټاکني
2. د ولسي جرگي ټاکني
3. دولايتي شوراګانو انتخابات
4. د ولسواليو د شوراګانو ټاکني

### د ټولټاکنو لنډمهال کارکوونکي

**دويمه ماده:**

د ټاکنو موقت کارکوونکي هغه اشخاص دي چي د بيلابيلو ټاکنيزو فعاليتونو د پرمخ بيولو په خاطر په موقت ډول د د کميسيون له خوا استخداميږي.

### د ټاکنو د لنډمهالو کارکوونکو استخدامول

**دريمه ماده:**

1. د ټولټاکنو لنډمهال کارکوونکي په دي کړنلاره کي د اټکل شويو صفتونو او شرايطو له په پآم کي نيولو سره سم د کميسيون د دارالانشا له خوا استخداميږي.
2. کميسيون په بيلابيلو ټاکنيزو بهيرونو کي د زياتو ښځو د ونډي په موخه ځانګړي شراط په پام کي نيسي
3. د کميسيون دارالانشا بايد کاري شرايط داسي وټاکي چي معلولين وکړاي شي د خپلو کاري وړتياوو له په پآم کي نيولوسره د ټاکنو په پروسو کي وګومارل شي.
4. د ټاکنو د موقتو کارکوونکو په استخدامولو کي بايد د امکان تر پولي پوري قومي اندول رعايت شي.

### شرايط او صفتونه

**څلورمه ماده:**

د ټاکنو لنډمهال کارکوونکي لاني صفتونه ولري

1. د افغاني تابعيت درلودل
2. عمر يي له اتلسو کلونو څخه کم نه وي
3. د تحصيلي رسمي سندونو شتون
4. د جرمي سوابقو نشتوالی
5. کاري تجربه
6. د هيواد په رسمي ژبو باندي واکمن وي

د ټاکنو د موقتو کارکوونکو په استخدام کي د کميسيون دارالانشا لاندي شرايط په پام کي نيسي:

الف- د اعلان ، د غوښتن لیک په ترلاسه کولو ، شارت لست کولو ، آزمویني ، مرکې او د غور ه شخص د ټاکنې په بهیرکې بشپړ رونوالی .
ب- د سپارښتونو او اړیکو له مخې د کارکوونکو نه استخدامول
ج- د استخدام د ټولو پړاوونو تیرول او د اړوندو سندونو برابرول

## د استخدام خنډونه

### پنځمه ماده:

د ټاکنو د موقتو کارکوونکو په توګه د لاندینیو اشخاصو استخدامولو جواز نه لري

1. د سیاسي ګوندونو مسوولین او کاندیدانو استخدام
2. د ټاکنیز کارکوونکي د مسوولیت او واک په ساحه کې د کاندیدانو نږدې خپلوان
3. د سیاسي تعلقاتو لرونکي هغه افراد چې نه پلوي توب یې تر پوښتنې لاندې راشي
4. هغه افراد چې استخدامول یې د کمیسیون له خوا بند شوي وي
5. د ټاکنو د دایمي کارکوونکو لومړۍ درجې ته نږدې خپلوان

## د استخدام پر بهیر باندې څارنه

### شپږمه ماده:

1. د کمیسیون دارالانشا د استخدام د لازیات شفافیت په موخه د مرکز او ولایتونو په کچه د استخدام د بهیر د څارنې په موخه جدي تدبیرونه نیسي
2. د استخدام دبهیر څارنه کولای شي د کمیسیون د دارالانشا له غوښتنې سره د بهرنیو بنستونو له لوري ترسره شي
3. څاروونکي بنستونه کولای شي د ټاکنیزو کارکوونکو د استخدام په اړه رپوټ برابر کړي
4. د رای ورکووني او رای شمیرنې په مرکزونو کې د ټاکنو د موقتو کارکوونکو د استخدام څارنه د کمیسیون د دارالانشا د غوښتنې له مخې د بهرنیو بنستونو له خوا په څارنې برسیره د زون د ساحوي همغږو کوونکو له خوا هم ترسره کیږي

## مسوولیت او مواخذه

### اوومه ماده:

1. د استخدام په بهیر کې د لاسوهنې په خاطر له وظیفوي واکونو څخه هرډول ناوړه استفاده د کمیسیون او د دارالانشا له خوا په جدي ډول څیړل کیږي
2. مسوول آمرین په دې کرنلاره کې له هر ډول ټاکل شویو اصولو څخه د سرغړونې په اړه د استخدام په برخه کې مسوولیت لري

## آزمایښتي دوره

### اتمه ماده:

د کمیسیون دارالانشا کولای شي د موقتو کارکونکو د کاري ورتیاوو د څیړنې لپاره یوه موده د آزمایښتي مودې په نامه وټاکي

## نه پلوی توب او د محرمیت تعهد

### نهمه ماده:

الف – ټاکنیز کارکوونکي مکلف دي ورځنی چارې په بیطرفانه او غیر جانبدارانه توګه ترلاسه کړي او د دندو په ترسره کولو کې نه شي کولای د کمیسیون د دارالانشا له رییس پرته له هیڅ دولتي او غیر دولتي مقام څخه لارښوونه واخلي.
ب- ټاکنیز کارکوونکي د دندې له اشغال مخکې په رسمي او لیکلي ډول چې کمیسیون یې مشخصوي ، ژمنه کوي چې د ټاکنو په ټولو بهرونو کې خپلې دندې په ښه توګه او د اسرارو په ساتلو او امانت دارۍ سره پرمخ بوځي.

انفاذ

لسمه ماده:

دغه کړنلاره د تصویب له نیټې ورسته خپره او نافذه ده.